# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۰ ګڼه / سه شنبه ۱۲ شوال‌الکمرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۱۲ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۳ می ۲۰۲۳ میلادي


## آغاز روند صدور ویزای چین برای افغانان



شـــریعت: ســـفارت چین در کابل روند صدور ویزا را از سر می‌گیرد.
وزارت امور خارجه امارت اسلامی اعلام کرده اســـت که سفارت چین در کابل تا دور روز دیگر صدور ویزا برای افغانان را آغاز می‌کند.
سخنگوی این وزارت روز گذشته با نشر تویتی گفت: بر اثر تلاش‌های ریاست امور قنســـلی وزارت امور خارجه، سفارت جمهوری ... ص۷

## افغانستان د وسپنې پټلۍ له لارې یو شمېر بندرونو سره وصلیږي



د ریاســـت الـــوزرا د اقتصـــادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس به په نږدې راتلونکـــي کې د بلخ - هرات - کندهـــار ترمنځ د وســـپنې پټلۍ پروژې لومړني کارونه پیل شي چې په بشپړېدو ســـره به یې افغانستان د وســـپنې پټلۍ له لارې لـــه چابهار، عبـــاس او د پاکســـتان د کراچۍ او ګوادر له بندرونو سره ونښلول شي.
د یاد معاونیت دفتـــر پر خپله ټویټر پاڼـــه لیکلـــي، دغه پـــروژه ۱۴۶۸ کیلو متـــره اوږدوالی لري چې د نهو ولایتونو له ۳۷ ولسوالیو څخه تېرېږي او په بشپړېدو ســـره به یې سیمه‌ییز اتصـــال رامنځ‌ته او د افغانســـتان له لارې د سیمې ټرانزیټ ډېر شي.

یواین‌ایچ‌سي‌ار:

## افغانستان کې خپلو کارونو ته دوام ورکوو

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مرستیاله چې پرون کابل ته راغلې وه ویلي، په افغانستان کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي او هم له اسلامي امارت سره د دوی په ادارو کې د ښـــځو د کار کولو په اړه خبرې کوي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشـــنرۍ مرســـتیالې جیلین ترګس ویلي، دغه ســـازمان له څو لسیزو راهیسې په افغانستان کې خلکو ته خدمتونه وړانـــدې کوي او په دغه هېواد کې به خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي. یادې مرستیالې ویلي، په دغه ماموریت کې به دوی د افغانستان اســـلامي امارت سره د ملګرو ملتونو ســـازمان په دفترونو کې د ښـــځو او نارینـــه‌وو د کار کولو په اړه هم خبرې وکړي. هغې داسې مهال ... ۷مخ

## زلزله ځپلو ته نورې آسانتیاوې برابرېږي

شریعت: د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس مولوي مطیع الحق خالص افغانستان کې د ترکیې د سرې میاشتې له مسوول فرید ضیاء سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
افغاني سرې میاشتې ادراې پرون خبر ورکړ، چې په دغه کتنه کې د خوست ولایت زلزله ځپلو کورنیو تـــه د ٦٥ کورونو د جوړېښـــت پر چارو، یادو کورونو ته د هستوګنې د توکو پر چمتوکولو، په زلزله ځپلو سیمو کې د پاکو اوبو د سیستمونو پر چمتو کولو خبرې وشوې.
خبرپاڼـــه کې زیاته شـــوې، چې پـــه یاده کتنـــه کې دغـــه راز په ۵ مرستونونو کې پر ترمیماتي چارو او ښـــوونځیو ته د قرطاســـیې د ۱۰۰۰ بســـتو پر وېش هم خبرې وشوې.

## اجرای تعزیر بالای ۶ تن در فاریاب

شریعت: جزای تعزیری بر چهار مرد و دو زن در فاریاب تطبیق شد.
ستره محکمه، از تطبیق جزای تعزیری بالای ۴ مرد و ۲ زن به نســـبت ارتباط نامشروع و نوشیدن شراب، در فاریاب خبرداده اســـت. این اداره، روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: طبق فیصله محاکم فاریاب و هدایت سرپرســـت ستره محکمه، بر چهار مرد و دو زن که به داشتن ارتباطات نامشروع و نوشیدن شراب مجرم شناخته شده بودند، جزای تعزیری تطبیق شـــد. در خبرنامه آمده اســـت که جزایی تعزیری این افراد از سوی مولوی عبدالغنی سعید، رئیس عمومی محکمه مرافعـــه فاریاب، در محوطه این محکمه تطبیق شد.
پیش از این، بالای شماری از مجرمان در نقاط مختلف کشور حدود شرعی، اجرا شده است.

## تېر کال څه باندې ۳ میلیارده نوې افغانۍ هېواد ته رارسېدلې

د افغانستان بانک چارواکي وایي، په تېر کال کـــې د ۱۰، ۲۰ او ۵۰ افغانیو درې میلیارده ۱۴۰ میلیونه ۸۰۰ زره نوې بانک نوټونه هېواد ته رارسېدلي، یوه اندازه نوې بانکنوټونه وېشل شوي او زړې پیسې هم راټولې شوې دي. د افغانستان بانک د پولي سیاست رییس احمد جواد سداد وایي د بازار اړتیا ته په کتو او د «معقولو پولي سیاستونو» په پام کې نیولو ســـره یې بـــازار ته به دغه نوې بانـــک نوټونه وړاندې کړي.
د هېواد په بازارونو کې له خلکو ســـره زړې افغانۍ ډېرې شوې او خلک ډېر کله د زړو بانک نوټونـــو له زیاتوالي شکایت کوي.

## د انرژۍ پر سکتور پانګونه کېږي

د اوبـــو او انـــرژۍ وزارت د انرژۍ مرســـتیال د ۷۷ ترکي شـــرکت له استازي سره وکتل
د اوبـــو او انـــرژۍ وزارت د انرژۍ مرســـتیال ملا عبدالقاهر ادریس په خپـــل کاري دفتر کـــې د ۷۷ ترکي شرکت له اســـتازي بوراک اونسال سره وکتل.
دغـــه وزارت پـــرون په یـــوه ټویټ کـــې وویل، چې پـــه دې کتنه کې، د انرژۍ په ســـکتور کې د پانګونې او د انـــرژۍ د تولید پـــه برخه کې د لا زیاتـــو همکاریـــو د پراختیا په هکله بحـــث او د نظرونـــو تبادله وشوه.
خبرپاڼه کـــې راغلي، چې د اوبو او انـــرژۍ وزارت د انرژۍ مرســـتیال د یاد شـــرکت له اســـتازي ســـره د همکارۍ ژمنه وکړه او په دې برخه کې یې د پانګوالو پر جلبولو باندې ټینګار وکړ.

## پر سوري زړه اخته ۱۵ ماشومانو درملنه کېږي

شریعت: کابل کې د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۱۵ نورو ماشـــومانو د درملنې په موخه یوه داخلي روغتون ته ور وپېژندل شول.
افغانۍ ســـرې میاشـــتې پرون د یو خبرپاڼې پـــه خپرولو ســـره وویل، چې د ســـوري زړه په ناروغۍ اخته ۱۵ تنه نور ماشومان پلازمېنه کابل کې د درملنـــې او عملیاتو په موخه یوه داخلـــي روغتون ته ور وپېژندل شول.
په خبرپاڼه کې زیاته ... ۷مخ

## دو محمولهٔ تیل بی کیفیت ایران مسترد گردید



شریعت: اداره ملی ستندرد، دو تانکر تیل بی‌کیفیت وارد شده از ایران را دوباره به آن کشور مسترد نمود.
این اداره روز گذشته با نشر تویتی گفت: دو تانکر تیل که از ... ص۷

روغتیاسازمان:

## افغانان دې خپل ماشومان په دوامداره توګه واکسین کړي

د روغتیـــا نړیوال ســـازمان له افغان کورنیو غوښـــتي چې خپل ماشومان د پولیو ناروغۍ پر وړاندې مسلســـل واکســـین کـــړي. د روغتیـــا نړیوال سازمان پرون په یوه ټویټ کې ویلي چې په هر کمپاین کې ماشـــومانو ته د پولیو دوه څاځکي واکسین ورکولو ســـره کولی شـــو د پولیـــو ویروس د خپرېدو مخه ونیسو. د روغتیا نړیوال سازمان له خلکو غوښتي چې له هر فرصت څخه په اســـتفادې له پنځو کلونو کم عمره ماشومان ... ۷مخ

## تحویل‌دهی مطبعه نبراسکا به وزارت معارف



شریعت: جلسهٔ همآهنگی در بارهٔ مطبعه نبراسکا در ریاست عمومی اداره امـــور میـــان وزارت‌های اطلاعات و فرهنـــگ و معارف برگزار گردید. ریاســـت عمومی اداره امور دیروز با نشـــر تویتی گفت: به منظور تعقیب فیصله‌های کمیســـیون اداری ریاست الوزرا، نشست هماهنگی در باره مطبعه نبراســـکا در ریاســـت عمومی اداره امور بـــا حضور نمایندگان وزارت‌های اطلاعات و فرهنگ و معارف برگزار شد.
هیئت پس از نشست مقدماتی از مطبعه نبراسکا در وزارت معارف بازدید و روند کاری و چگونگی کارماشـــین آلات آن را ارزیابی کردند. ص۷

## شبرغان ښاروالۍ تېره میاشت څه باندې ۸ میلیونه افغانۍ راټولې کړې

د شبرغان د ښاروالۍ مسوولین وایي، چې تېره میاشـــت یې ۸ میلیونه ۳۸۳ زره ۷۱۹ افغانـــۍ عوایـــد راټـــول او د دولت خزنې ته سپارلي دي. د شبرغان ښاروال مولوي حبیب الله قانع وایي، چې دغـــه عواید د نـــوي کال په وړې میاشت کې د پلان له مخې د کورونو او ساختمانونو د صفایۍ، ښاري وسایطو، دوکانونو او اعلاناتو د لوحو او د ځمکې د خرڅلاوو له درکه ترلاسه شوي دي.

## سرمقاله

## د پوځ فکري او مسلکي روزنه ګړندۍ هڅې غواړي!

د هېواد د نظامي مســـؤلینو پر وینا دا وخت زموږ د وسلوال ځواک شـــمېر تر یونیم لک پورې رســـېدلی او د دوی پرلازیاتولو هم کار روان دی. په دې کې شـــک نشته چې د پوځي ځوانانو زیاتره برخه بـــه حتماً هغـــه مجاهدین وي چـــې کلونه یې پـــه جنګونو، نښـــتو او تعرضي یا دفاعي جګړو کې تېر کـــړي، خو څرنګه چې هغـــه مهال د خاصو شرایطـــو له امله مجاهدینو څه داســـې منظم او دایمـــي ټولګي نه لرل،بلکې د هېواد هر با احساســـه ځوان به د مناســـبې موقع په موندلو له نـــورو مجاهدینو سره په ځینو عملیاتو کې ګډون کاوه، همدا وجه ده چې اوس په نظامي برخه کې زموږ مســـلکي کســـان ډېر کم دي. بله وجه ښـــایي دا هـــم وي چې یو غټ شـــمېر نظامي کسان دا وخت په ملکي ادارو کې هم په چارو ګمارل شـــوي. پر دې اساس ښکاره ده چې وسلوال ځواک په هر صورت له فکري او مســـلکي پلوه هر اړخیزې روزنې ته اړتیا لري. په دې معنا چې هم یې د لیک لوســـت او دیني تعلیم او تربیې غم وخوړل شي، هم په نظم او قانون پوه کړای شي او هم پوره نظامي زده کړه او روزنـــه ورکړای شي. البته دغه چاره پـــه زیاترو نظامي قطعاتو کـــې څه ناڅه روانـــه او وخت پر وخت یې لـــه لنډمهالو کورســـونو د فراغت خبرونه خپرېږي خو بیا هم دا اندېښنه پرځای ده چې یونیم ســـل زره شمېر ته په کتو ښایي په ... ۷مخ

## سوریه کې سپین خولي ډله د کومو موخو لپاره رامنځ ته شوې؟

٤ مخ

## ملا صیب د دې زماني نه و

۲ مخ

## ځان پېژندنه

۳مخ

## د غزني پاسپورټ آمریت تېره میاشت څه باندې ۱۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي




د غزني د پاسپورټ آمریت په تېره میاشـــت کې د پاسپورټونو د وېش له درکه ۱۵ میلیونه ۹۷ زره ۵۰۰ افغانۍ عواید راټول کړي دي.
د غزني د پاسپورټ آمریت مسوولین وایي، چې یاد عواید د ورې میاشتې پـــه لـــړ کـــې د ۲ زره ۴۱۸ ټوکـــه د پاسپورټونو د وېش له ... ۷مخ

## ایجاد یک لیسه شبانه در اداره تنظیم امور زندان‌ها

شـــریعت: یک مکتب شـــبانه برای آموزش کارکنـــان نظامی اداره تنظیم امور زندان‌ها ایجاد گردید.
مســـوولان ایـــن اداره می‌گویند، که لیســـه مذکور برای آمـــوزش آنعده نظامیانی ایجاد شـــده کـــه از ادامه آموزش باز مانده اند.
در این مکتـــب بر عـــلاوه آموزش کارکنان اداره تنظیم امـــور زندان‌ها بعضی ســـمینارهای مســـلکی نیز برگزار خواهد شد.



# ملاصیب
# د دې زمانې نه و
## د لسم تلین په مناسبت

احمد منصور

که چېرې د مبارک ( رحمه الله) ژوند مطالعه کړو وبه پوهېږو چې اروابناد د دې پیړۍ له انسانانو په کامل ډول مستثناء و، سر یې له خالق پرته هېڅ ډول مخلوق ته ټیټ نه کړ نننی نړۍ ته به دا جالبه وي چې د یو داسې هېواد چې په هېڅ مو نه شمېره او بیا په یاد هېواد کې د یوې داسې سیمې چې د ژوند له ټولو سهولتونو لرې او کلیواله سیمه کې څنګه یو داسې شخص پیدا کېږي چې د نړۍ په څلورو اطرافو کې محبوبیت پیدا کوي آن دښمن یې په غیرت اعتراف کوي او په دې ویاړي چې دښمن مو ده نړۍ به زما په آند کله هم داسې فکر نه و، کړی چې دا ملنګ به موږ ته تر لسیزو سر درد جوړېږي او په میراث به یو داسې صف پرېږدي چې د نوموړي په څېر پوخته او قاطع وي.
د ملا صیب (رحمه الله) د واکمنۍ پرمهال ځینو کتابونو محفوظ کړي او یا له خپلو مشرانو یې اورو بیایی مو د اسلام د دوهم خلیفه دورې خلافت ته زما په آند ځینو ته هغه کیسې افسانې ښکارېدې خو رب یې په دې پیړۍ کې بېلګه را وښوده تنها هغه نه ابراهیم(علیه سلام) ته له اوره نجات ورکول، یوسف (علیه سلام) څاه کې له مرګه ژغورل او محمد (صلی الله علیه وسلم) د مشرکینو له لوي دامه ژغورل د ملاصیب په دولس یا دریارلس کالو سالم پاتې کېدلو د مؤمنانو عقیده لا پیاوړې او رب منکرینو ته خپل شتون او وحدانیت ثابت کړ حال دا هغه ټکنالوژي چې د ځمکې لاندې یې د اشیاؤ لیدلو ادعا کوله نه د ملاصیب په اسیرولو او شهیدولو ونه توانېدل عموماً چې حکومتونه نړېږي روحیه ځپل شوي وي چارواکي یې زبون وهلي وي خو ملاصیب له نورو ډېر متفاوت او د رب په نصرت باورمند و، د خپل حکومت له ماتې څو ورځې مخکې د اشغالګرې ټکنالوژۍ پر ضد مبارزې او د بیا راګرځېدو هوډ څرګندوي تنها په دې اکتفاء نه کوي د ماتې پېشنګویي یې هم ورکوي تر څنګ خپل ملت ته داډ هم ورکوي چې رب له موږ سره ده هغه وخت مغرورې نړۍ او اشربانو یې لیونتوب باله خو بې خبر له دې چې په رښتیا له ثالث عمر سره مواجې شوی شل کاله مخکې شیخ اُسامه یو امتحان و، که غرب ته ورکړل شوی وی هم به رب ناراضه او هم به د محمد(صلی الله علیه وسلم) ګاونډیان را څخه خفه وو خو ملا صیب و، چې نظام یې له یوه مسلمان قربان کړ د مسلمانو ملتونو ترمنځ یې باور پیاوړی کړ او د هېڅا ملامتۍ له خپل دریځ منحرف نه کړای شو د ملاصیب پورتني اوصاف ، ځانګړنې په رښتیا خلک دې ته مجبوروي چې ووایي د دې زمانې سړی نه و او نه د دې عصر قلموال یې شخصیت قلمبند کولای شي جدیت، قاطعیت، اسلامي اوامرو ته سر ټیټی ، عملاً یې نافېذول ، لوړه حوصله، په مسلمان مهرباني او له کفر سره سختي یې عادت ګرځېدلی و.

# فساد او مفسد

دریمه برخه / مولوي نورالحق مظهري

فساد د سببونو، کړنو او هدفونو له مخې پر ډېرو اقسامو وېشل کېږي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:
اداري فساد، مالي فساد، اخلاقي فساد، سیاسي فساد، تعلیمي فساد او ټولنیز فساد.
لومړی د ادارای فساد اړوند خبره کوو؛ اداري فساد هغه انحرافاتو، ناغېړیو او غفلتونو ته ویل کېږي چې څوک یې په خپله محوله وظیفه کې کوي چې په سبب یې د خلکو ګټې تر پښو لاندې کېږي، د خلکو کارونه ځنډېږي، خلکو ته د خدماتو عرضه کول ټکنی کېږي، وخت بې هدفه ضایع کېږي او داسې نور...
د بېلګې په توګه وظیفې ته ناوخته راتلل او وختي تلل اداري فساد دی، د خپلې ادارې اسرار افشاء کول اداري فساد دی، روابطو ته پر ضوابطو ترجیح ورکول اداري فساد دی، په ټاکنو کې خپلوي او شناخت معیار ګرځول اداري فساد دی، نقدي او غیر نقدي رشوت اخیستل اداري فساد دی، واسطه بازي او اندیوالیزم اداري فساد دی، په رسمي وختونو کې د ادارې له کارونو څخه ماسوا نور کارونه کول اداري فساد دی، د نورو کسانو په وظیفه کې مداخله کول اداري فساد دی، کارونو ته سطحي کتل او بې ځایه تساهل کول اداري فساد دی، په عامو کارونو کې خپلې شخصي ګټې هدف ګرځول اداري فساد دی او هر هغه عمل چې د ادارې کارونه ټکني کوي او یا یې نظم او ترتیب خرابوي هغه اداري فساد دی.
د اداري فساد لاملونه:
د اداري فساد لپاره ډېر لاملونه شته چې ځینې یې ممکن په شعوري ډول د شخص لخوا کېږي او فساد ورڅخه پیدا کېږي، ځینې یې په غیر شعوري ډول د فساد لامل کېږي او ځینې یې د حالاتو څخه په تأثر یا تېل کېدلو د فساد سبب جوړېږي چې په لاندې ډول یې د ځینو یادونه کولای شو:
۱ – په لوړه او دوامداره کچه بېکاري.
۲ ـ د شخصي عوائدلو لړوالی.
۳ – په مالي چارو کې د روڼتیا او معقولیت نشتوالی.
۴ ـ د مالي قوانینو په اجراء کې د انصاف او روښانتیا نشتوالی.
۵ ـ د مفسد په مجازاتو کې ځنډ او خنډ.
۶ – غیر مسلکیتوب.
۷ ـ د عقیدې او اخلاص ضعیف والی.
۸ ـ وظیفې ته د امتیاز او میراثي حق حیثیت ورکول.
۹ ـ وظیفې ته اعتناء نه کول او ځان ډېر لوړ او لوی ګڼل.
۱۰ ـ د رسمي وظیفې تر څنګ په نورو وظیفو باندې ځان مصروف کول.
۱۱ ـ د مافوق مسئول لخوا د کاري لایحو خلاف فرمایشات او دستورونه.
۱۲ ـ په اداره کې د غیر مصلحو مفسدو انسانانو شتون.
۱۳ ـ د شناخت، قومی، اندیوالۍ او واسطې په سبب اصول له پامه غورځول.
۱۴ ـ په کارونو کې جعل او تزویر.
دوام لري...

# د افغان جګړې میلیونران

ادریس زرمتی

په افغانستان کې د تېر شل کلن اشغال پر مهال د فساد دوه پړاوونه و چې یو یې داخلي او بل یې خارجي و . په افغانستان کې د شفافیت نشتوالي او اطلاعاتو ته د لاس رسي کمزوري سیستم له وجې د مفسدینو پر وړاندې شواهد راټولول ناشونی کار و. داخلي او اجتماعي رسنیو هم څه نه شوای کولای ځکه چې د دوی پر پیسو چلېدې نو تر ډېره یې پر وړاندې تحقیقي راپورونه جوړول نا ممکن دي، خو بیا هم ځینو غربي رسنیو یې یوڅه فساد رسوا کړی او راپورونه یې پرې خپاره کړي دي .

**لومړی پړاو :**

شېرزیان، کرزیان، نوریان، دوستمیان، لنډغریان ... دا لېسټ خورا اوږد دی. دا ټول هماغه خلک دي چې د افغانستان په تېره ۲۰ کلنه جګړه کې میلیونران شول.
دوی کې ډېرکم یې له ځایه شتمن وو خو تېره ۲۰ کلنه جګړه کې یې شتمنۍ خورا ډېره شوه سره له دې چې امریکایانو او د هغوی متحدینو په یاده جګړه کې ۲.۳۱ ټریلیونه ډالره مصرف کړل چې د ورځې ۳۰۰ میلیونه کېږي خو بیا هم افغانان د ژوند له لمړنیو اړتیاوو بې برخې وو او دي.
په همدې غریب او جګړه ځپلي هېواد کې یو شمېر خلکو او کورنیو تر تصور پورته شتمني تر لاسه کړه. په دې کې ځینو د اردو د لوبیا او دالو پر پیسو په خلیج او اروپا کې ماڼۍ جوړې کړې. د غیر رسمي تخمیناتو له مخې افغان چارواکو د شاوخوا ۲۰۰ میلیاردو په ارزښت په دوبۍ کې جایدادونه لري.
له دې سره په څنګ کې دې خلکو خپل چینلونه هم لرل. د بېلګې په ډول فهیم هاشمي راخلم که څهٔ هم دی جنګ سالار نه و خو د افغانستان د جنګ میلیونر ورته ویلای شو. په ۲۰۰۳ کال کې یې له امریکایانو سره ترجماني پیل کړه خو ډېر زر یې ترجماني پرېښوده او خپل شرکت یې جوړ کړ. په امریکایانو کې یې د خپل جوړ کړي شناخت نه په استفاده واړهٔ واړهٔ قراردادونه واخیستل لومړی قرارداد یې د ۶۰۰ ډالرو و. په امریکایانو یې یو څو بالښتونه او روجایانې خرڅې کړې خو په ۱۰ کالو کې د فهیم هاشمي کاروبار دومره لوی شو چې کلنی عائد یې ۲۰۰ میلیونه ډالرو ته ورسېد. یک تلوېزون د ده دی په ۲۰۱۳ کې یې د ایسټ هارېزون ائیرلائن East Horizon Airlines په نوم هوائي شرکت جوړ کړ ګڼ نور ساختماني شرکتونه لري او د اشغال پر مهال د امریکایانو له خوا د ډالرو باران پرې کېده.

**حکمت الله شادمن:**

دهٔ هم د فهیم هاشمي په څېر د میلیونرۍ سفر له ترجمانۍ پیل کړ. د نیو یارکر (The New Yorker «march ۷, ۲۰۱٦») مجلې د یو راپور له مخې ده تر ۱۶۰ میلیونه ډالره ډېرې پیسې وګټلې. پر شادمن دا تور و چې له بهرنیانو یې د پیسو او رشوتونو پر مټ قراردادونه اخیستل. د سپېشل فورس ځینو امریکایي قومندانانو (The New Yorker) مجلې ته ویلي چې د امریکایانو کاروانونو لوی قراردادیان لکه رازق شېرزی، وطن ګروپ او نور هغه شخصي امنیتي شرکتونه چې قوي سیاسي ملاتړ یې لاره. د دوی له قوله شادمن امریکایانو ته غلط راپورونه ورکول او طالبانو ته یې د خپل کاروانونو سالم تېرولو په بدل کې روپۍ ورکولې.
پر شادمن دا کړۍ دومره را تنګه شوه چې یوه شپه امریکایانو چاپه پرې ووهله او بګرام ته یې یووړ. د شادمن د شتمنۍ ۵۷ میلیونه ډالر امریکایانو کنګل کړه تر ځو کاله قضائي کشمکش وروسته په ۲۰۱۹ کې د واشنګټن ډیسي یوې محکمې د شادمن ۲۵ میلیونه ډالر ضبط کړه.
دا ډول تورونه پر نورو خصوصي او امنیتي شرکتونو هم وو دا چې هغوی تر شا قوي سیاسي ملاتړ لاره، نو ځکه محاکمه نه شول، د بېلګې په ډول وطن ګروپ (WATAN GROUP) دا تر شادمن ډېر لوړ شرکت و او تر هغه یې څو چنده زیاتې پیسې پیدا کړې. په ۱۸ میاشتو کې د وطن ګروپ عوائد له ۵ لکه ډالرو څخه تر ۵۷ میلیونه ډالرو ته ورسېد.
د نیو یارک ټایمز(The New York Times) په حواله د وطن ګروپ له ټولو لوی پانګه وال د ولسمشر حامد کرزي وړور قیوم کرزی و.
د (NCL Holding)په نوم بل لوی شرکت د رحیم وردګ د زوی حامد وردګ و. دې شرکت د ناټو کاروانونو د ایسکورټ قراردادونه لرل.
د ( Elite Security Services ) په نوم شرکت د صبغت الله مجددي د زوی و.
د (Asia Security Group) په نوم شرکت د حشمت کرزي و.
سره له دومره فساده حامد کرزي له (٦٠ minutes) په نوم چینل سره په مرکه کې وایي چې د افغانستان حکومت ۵ فیصده هم مفسد نه دی لکه څومره چې ویل کېږي. د دهٔ له قوله وایي روسانو په افغاستان کې د اشغال پر مهال خپل قراردادونه د حکومت چارواکو ته نه ورکول او امریکایانو هم دا کار وکړ.
چې فهیم هاشمي او حکمت شادمن غوندې عادي ترجمانان میلیونران شول چې نه د ولسمشر د کورنۍ غړي و او نه یې تر شا قوي سیاسي ملاتړ لاره، نو د حشمت کرزي، قیوم کرزي، ګل آغا شېرزي، عطاء محمد نور او دوستم سره تړلي شرکتونه او افراد به څومره شتمن شوي وي.
امریکایانو پیسې شیندلې او هماغه شرکتونو ته یې قراردادونه ورکول په یو نه یو ډول د جنګ سالارانو سره وو. یعنې دوی جنګ سالاران تقویه کول او له اولې ورځې یې په افغانستان کې قانونیت او د فساد مخنیوی نه غوښت. همدغه جنګ سالاران د دوی په نقصان تمام شول، د یو منظم حکومت په جوړښت کې خنډ و او د دوی (امریکایانو) د لاس جوړ جمهوریت په څو ورځو کې نسکور شو. د ملل متحد د ۲۰۱۹ کال د راپور له مخې د افغانستان ۱۰.۲۳ میلیونه خلک له لوږې سره مخ وو.
دویم پړاو : دغه راز د افغان میلونرانو په نسبت امریکایانو هم ډېرې پسې تر لاسه کړې.د سیګار د یو راپور له مخې امریکایانو له ۲۰۰۱- ۲۰۲۱ پورې د افغانستان په بیا رغونه کې یواځې ۸ فیصده د حکومت له لارې او نور یې د خصوصي شرکت له لارې مصرف کړي. دا شرکتونه تر ډېره امریکایي وو چې ګټه یې بېرته امریکایانو ته رسېدله.
د بېلګې په ډول لویس برګر ګروپ (Louis Berger Grouo) شرکت چې د ۱.۵ میلیاردو ډالرو په ارزښت قرادادونه یې لرل په فساد کې لاس پر لاس ونیول شول خو بیا یې هم قراردادونه اخیستل.
په افغانستان کې د امریکا پخوانی سفیر ریان کروکر Rayan Crocker (۲۰۱۱-۲۰۱۲) وایي چې په افغانستان کې زموږ تر ټولو غټه پروژه د فساد رامنځته کول وو.د لندن د سوآس SOAS University of London استاد جونتن ګډهېنډ Jhontan godhand په یو ایمېل کې د نیویارک ټایمز The New York Times ژورنالیستي فراح سټوګمن Frah Stogman ته لیکي چې امریکایان یواځې افغانان پر فساد تورنوي او په فساد کې خپل رول پټوي.
سوپریم شرکت SUPREME.
د دې شرکت عوائد د افغانستان د جګړې په لومړیو ۱۰ کالو کې ۵۰ فیصده زیات شول. په ۲۰۰۹ کې د امریکا د یوې فدړل ادارې ډیفېنس لوجسټک ایجنسي (DEFENCE LOGISTICS AGENCY) مشر خپله دولتي دنده پرېښودله او د امریکا د څانګې سوپریم SUPREME شرکت مشر وټاکل شو.د ده له ګمارل کېدو وروسته د ډیفېنس لوجسټیک ایجنسي Defence Logistic agency له لوري سوپریم SUPREME شرکت ته د میلیاردونو ډالرو په ارزښت قراردادونه له داوطلبۍ پرته ورکړل شول.د سوپریم شرکت د فساد قضیه په ۲۰۱۴ کې د امریکا تر یوې فدړل محکمې ورسېده او یاد شرکت یې ۳۸۹ میلیونه ډالره جریمه کړ.
اې ایوای AEYe شرکت.
دې شرکت د ۲۰۰۷ کال په جنورۍ کې د امریکا له پوځه یو قرارداد واخیست د دې قرارداد قیمت ۲۹۸ میلیونه ډالره و، چې په بدل کې به یاد شرکت ملي اردو ته پوځي مهمات برابرول.
دوی داسې مهمات اردو ته ورکړل چې اکثره یې له کاره لوېدلي او په ۱۹۵۰ میلادي کې جوړ شوي و.دا هغه وسلې وې چې امریکایانو یې په خوندي توګه منځه وړلو لپاره میلیونونه ډالره مصرفول. خو دې شرکت بېرته پر همدې پلورلې چې اردو ته یې ور کړې وې.د امریکا د دفاع وزارت لوی قراردادیان لکه
لاکیډ مارټن LOCKHEED MARTIN
بوینګ BOEING
جنرل ډاینامکس General dynamics
د افغانستان په جنګ کې بې حده شتمن شوو.د امریکا دولت خپله وسلې نه جوړوي قراردادي خصوصي شرکتونه یې جوړوي خو د دې شرکتونو په راس کې څوک دي.
په ۲۰۱۸ کې د مېډسمت برګر Mendismith Burgerیو تحقیق ښیي چې له ۲۰۱۸-۲۰۰۸ څخه د امریکا د پوځ لوړ رتبه چارواکي له تقاعد وروسته د امریکا د دفاع وزارت له همدې قراردادیانو سره یوځای شوو. جنرال جسمټس (General jesmits) یې یوه بېلګه ده. له تقاعد وروسته سمدستي د جنرل ډاینامکس(General Dynamics) د مشرتابه پلاوي غړی وټاکل شو او په ۳ کالو کې یې ۹۰۰۰۰۰ ډالره کورته یووړل. لویډ آسټن (Lloyd Austin)څلور ستوری جنرال په ۲۰۲۱ کې د امریکا د پوځ د لوی درستیز مرستیال و.
اوسنی دفاع وزیر په ۲۰۱۶ کې د پوځ له تقاعدۍ وروسته د رېتان (Raytheon) شرکت مشر شو. په ۴ کالو کې یې د ۱.۷ میلیونه ډالرو په ارزښت د رېتان شرکت د ونډې د معوضې په توګه ترلاسه کړي.یاد شرکت د امریکا د پوځ دریم لوی قراردادي و.

40.2B LOCKHEED MARTIN
.22.1B BOEING CO
20.7B RAYTHEON
17.8B GENERAL DYNAMICS

یادو شرکتونو په یو کال کې په مجموعي ډول ۹۹ بیلیونه ډالره د امریکا له دفاع وزارت نه ترلاسه کړي.د دې شرکتونو ګټه په جنګ کې وه او یاد شرکتونه له کانګرس نه نیولې تر سپیني ماڼۍ نفوذ لري. د بېلګې په ډول په ۲۰۱۶ کې د کانګرېس په ټاکنو کې یواځې Lockheed Martin شرکت د کانګرس یو څو مشخصو کاندیدانو او د دې په کمپائن کې ښکېلو خلکو ته ۳ میلیونه ډالره ورکړي.
د کانګرس غړي د امریکا بودیجه تصویبوي، یادو قراردادیانو ته قراردادونه ورکوي او د جنګ پرېکړه کوي.
د فساد ترڅنګ امریکایانو ډېرنورلګښتونه او ضائعیات هم وکړل. یواځې د بګرام په هوائي اډه کې یې د برېښنا د تولید لپاره په اونۍ کې تر ۱ میلیون ګېلنه ډېر تېل سوځول.
کېدای شي له مانه ډېر څه پاتې وي. دا د دوی د فساد یو څو بېلګې دي.له دې هر څه سره الله تعالی د دې ملت په مظلومه طبقه ذلیله او وشړل.اوس الحمد لله په افغانستان کې د فساد کچه ډېره راښکته شوې د اوسني حکومت په شفافیت باندې سیګارخپله شاهدي ورکوي. د افغانستان اسلامي امارت د لاسرلوړۍ په هیله.

# ځان پېژندنه

**يونس روهي**

دا يو څرګند حقيقت دی چې الله عزوجل دا ټول کائنات آسمانونه، ځمکه، ستوري، عرش، کرسی، سمندرونه، ونې، غرونه، ټول ژوي، ملايکان، پيريان، انسانان او هرڅه د خپل ژور حکمت، علم او عظيم قدرت له مخې منځ ته راوړي او هست کړي يې دي. بيا يې په دې واړه مخلوقاتو کې انسان يو داسې موجود خلق کړی چې د دې ټولو موجوداتو سردار او استعمالونکی يې ټاکلی، دومره پوهه، کمال او برلاسی يې ورکړې چې د دې ټولو شيانو د استعمال او استخدام ورتيا او قابليت په کې دی. داسې ژبه او خبرو کولو مهارت لري چې د خپل ضمير پيچلي مفاهيم نوروته څرګندولای او هر ډول غوښتنه ترې کولای شي. همدارنګه د عقل او شعور داسې يو جوهر يې په کې ايښی چې د ښو، بدو، ګټې او تاوان پوره پوره بېلتون کولای شي. د بشر د چاپېريال هر ډول واړه او غټ، کمزوري او پياوړي موجودات ټول د ده ګټې او استعمال لپاره دي زموږ د سپېڅلي دين په زرينو نصوصو کې هغه ته د اشرف المخلوقات لقب ورکړای شوی او په ځمکه کې د کائناتو د بشپړ واکمن او پالونکي د نايب مقام يې ګټلی. الله عزوجل په خپل بختور او جامع کتاب قرآن مجيد کې انسان ځای په ځای متوجه کړی چې له هرڅه مخکې د خپل پيدايښت په هکله فکر او سوچ وکړي چې دی څرنګه له يو ځاځکي اوبو د مور په ګېډه کې د يو کامل بشپړ انسان مرحلې ته ورسېد، له يوې ټاکلې مودې وروسته د الله تعالی په کامل قدرت نسبتاً يوې پراخې ساحې ته راووت، چې دا مهال ډېر کوچنی ماشوم او څومره بې وسه او ناتوانه شی و. بيا ورو ورو غټېده او لويېده، عقل او بدني ځواک يې زياتېده او د ځوانۍ او کمال تر پوره ورسېد. وروسته پوخ سړی او بالآخره تر بوډاتوب ورسېد. د خپل بدن داخلي کمالاتو، د اعضاؤ مهارتونو او د ننه وجداني احساساتو او هلته د ښه والي او بدوالي اخ وډب ته دې فکر وکړي چې دا د کوم حکيم عليم او قدير ذات کاريګري ده؟ دا انسان چا د عدم له تيارو د موجوديت ډګرته راوستو او تر دې پړاوه يې چا روزنه او پالنه وکړه. له دغسې کمالاتو او هنرونو ډک يو موجود به يې د څه لپاره هست کړی وي، څه به ترې غواړي، څه لارښووني به يې ورته کړې وي، له څه به يې منع کړی او په څرنګه وظايفو به يې ګمارلی وي. دا د هر انسان ذمه واري ده چې کله الله تعالی ټول شيان د انسان د ګټې لپاره پيدا کړل او د هغو د استعمال او استخدام هنر يې ورزده کړ، نو آخر خپله دی يې د څه مقصد لپاره پيدا کړی دی، دا دومره لوی پروګرام خو هم عبث نه دی جوړ شوی او هغه حکيم او عليم ذات چې په دومره لطافت او بې شانه حکمت يې دا نظام منځ ته راوړی څرنګه يو عبث کار وکړي؟ دا څنګه ممکنه ده چې څه انجام ته يې ونه رسوي او کومه نتيجه ترې وانخلي؟ په دې ډول ګڼ سوالونه د انسان مخ ته پراته دي چې ځواب يې بايد پيدا کړي، ښه فکر او څېړنه په کې وکړي او بالآخره د خپل ځان لپاره د بري، نېکمرغۍ او خوشحالۍ لاره ومومي. په همدې اساس ويلای شو چې د ځان پېژندنې په نتيجه کې خالق پېژندل کېږي، د هغه د عظيم قدرت، حکمت او علم ژور والي، پراخي او هر اړخيز توب را څرګندېږي او په پای کې انسان خپل ذمه واري پېژندلای او همېشنۍ خوښي او بريا ګټلای شي. همدغه د ځان پېژندنې هڅه د انسان پرمخ د پوهنې او معلوماتو دروازې پرانيزي او خورا د سترو ګټو ترخزانو يې لارښوونه او لاس نيوی کوي.

که انسان په واقعي توګه له خپل خدای ورکړي عقل او شعوره کار واخلي نو خپله به تر ډېره بريده ښه او بد هم سره بېل کړي، د خپل خالق او مالک حق به هم وپېژني او چاپېريال سره اوسېدو مناسبه طريقه به هم په ښه توګه معلومه کړای شي. هو، که رښتيا هم يو انسان په دې پوه شي چې زه له څومهمو توکيو جوړيم؟ بدن، غړي،غوښې او هډونه مې څرنګه او څه ډول جوړ شوي، کارونه يې څه دي؟ غواړي څه او کومو شيانوته اړتيا لري؟ روح څه شی ده؟ کمزورتيا او پياوړتيا يې په څه کې ده او مړاويتوب او ښېرازي يې له کومه درکه منځ ته راځي؟ نفس څرنګه شی دی؟ غوښتنې يې څه دي؟ سمون او قابو کېدل يې په څه شان دي، نارامي او بغاوت يې کله منځ ته راځي. او بالآخره بېدولکه يو پردی نارامه، ظالم، بدخويه او بد نيته مشاور دا څوک يا څه شی دی چې پټ پټ مې بلاوران کاريو، ظلمونو، دښمنيو، حسد، حرص او قسماقسمو ناروااوو ته هڅوي، مشورې را کوي او يوه شېبه يې هم له وسوسو يې غمه نه يم؟ له دې بلا سره څه ډول چلند وکړم، که مشورې يې منم، يوه کې يې هم څه ګټه او خير نشته، که نه يې منم هم ځان نه شم ترې خلاصولای. څه وکړم چې د هغه له شره ځان وژغورم؟ چاته پناه ور وړم او کوم تدبير مې بچ کولای شي؟

# د افغانانو له ګډون پرته نړيوالې غونډې بې ګټې او هسې د وخت ضياع ده

**احمد راشد**

په پام کې ده چې د مې مياشتې پر لومړۍ او دوهمه نېټه (دوشنبې او سې شنبې) په ورځ د ملګرو ملتونو د سرمنشي انتونيو ګوتريش په مشرۍ د افغانستان په اړه په دوحه کې غونډه جوړه شي، که څه هم د دې غونډې اجنډا مالومه نه ده، خو داسې ويل کېږي چې په ياده غونډه کې به د افغانستان پر سياسي، اقتصادي او بشري وضعيت او د ښځو او نجونو د زده کړو او کار پر حقونو بحثونه وشي. خو ملګرو ملتونو په دغه غونډه کې اسلامي امارت ته د ګډون بلنه نه ده ورکړې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي وياند ستيفن دوجاريک ويلي، د دوحې غونډې اصلي موخه د افغانستان په اړه د يوه دوامداره مخکې تګ لپاره د نړيوال تعامل بيا پياوړي کول او د ګډو اهدافو لټون او يوه ګډ پيغام ته رسېدل دي. لکه د بشري حقونو په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو حقونه، ټولګډونه حکومت، له ترهګرۍ سره مبارزه، د مخدره توکو قاچاق کليدي ټکي يادوي.

له دغو څرګندونو داسې ښکاري، چې بهرنيان ليبراله ډيموکراسي پر اسلامي امارت ومني او خپلې ټولې اړيکې له همدې لارې مخته يوسي، خو اسلامي امارت بيا خپل ارزښتونه لري او پر ليبرالې ډيموکراسۍ هېڅ باور نه لري، هر هغه څه، چې د اسلامي اصولو خلاف وي، اسلامي امارت ته د منلو وړ نه دي ، تېرو ترخو تجربو ثابته کړه، چې صليبي لښکرو، ديموکراتانو او مغرضو سياسيونو له مظلومو افغانانو سره څه وکړل؟ افغانانو ته يې په تېر شل کلن اشغال کې څه ګټه ورسوله؛ پرته له دې، چې مظلوم افغانان يې له صحنې ايستلي و او شپه او ورځ يې پرې يوه کړې وه، مورو وليدل چې په تېره شل کلنه دوره کې يې د افغانانو تر منځ داسې د نفاق او کرکې تخم شيندلی وا، چې ورور يې له وروره بېزار کړی وا، پلار له زويه او ګاونډ له ګاونډه ، همدا لامل شوی وا چې هره ورځ به په سلګونو مينډې بورې، سلګونو مېرمنې کونډې او سلګونه اولادونه يتيمانېدل!

د ملګرو ملتونو امنيت شورا تېره اوونۍ په متفقه توګه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو لپاره د افغان ښځو پر کار کولو بنديز وغانده او د اسلامي امارت پر مشرانو يې غږ وکړ، چې ژر تر ژره خپله د بنديزونو پرېکړه بېرته واخلي، خو اسلامي امارت د شريعت له مخې د ښځو حقونو ته درناوی کوي او ټول حقونه يې خوندي ساتلي. د بهرنيو چارو وزارت د جمعې پر ورځ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د پرېکړې په غبرګون کې ويلي، چې د ملګرو ملتونو په دفترونو کې د افغان مېرمنو د نه کار کولو پرېکړه يوه کورنۍ تولنيزه مسئله ده او بهرنيان بايد له دې موضوع له سياسي کولو ډډه وکړي.

همدارنګه د يوناما سياسي مرستيال مارکس پوتزل د رئيس الوزرا له اداري مرستيال عبدالسلام حنفي سره په ليدنه کې ويلي، چې د ۲۲ هېوادونو او دوو نړيوالو ټولنو استازي به د افغانستان، سيمې او نړۍ د بشري حقونو او امنيت په اړه د دوحې په غونډه کې خبرې وکړي. له دې غونډې وړاندې د ملګرو ملتونو امنيت شورا يو پرېکړه ليک تصويب کړ، چې پر اساس يې په افغانستان کې د ښځو او نجونو د کار او زده کړو د حقونو پر ورکړې ټينګار شوی، خو اسلامي امارت د ټولو نجونو او ښځو حقونو ته ژمن دی او د ښځو پر کار ځينې لګېدلي محدوديتونه د افغانانو خپله کورنۍ مسئله ده،دا چې په دې غونډه کې د اسلامي امارت استازو ته د ګډون بلنه نه ده ورکړل شوې،خو له اسلامي امارت پرته غونډې د افغانستان په ګټه نه دي، که ملګري ملتونه غواړي چې غونډې او خبرې يې اغېز ولري، بايد د اسلامي امارت استازو ته د ګډون بلنه ورکړي،که دوی په رښتيني معنی غواړي چې د افغانستان په اړه پرېکړه وکړي، نو ښه خبره دا ده چې يو څوک د افغانستان په استازولۍ هلته ور وغواړي، افغان استازي به د ملګرو ملتونو نيوکو ته منطقي ځوابونه ووايي او د افغانستان پر سياسي، اقتصادي، بشري وضعيت له دوی سره مخامخ خبرې وکړي او پورتنيو مواردو په اړه به نړيوالو ته قناعت ورکړي.

افغانان له نړيوالو هيله لري،چې د اسلامي امارت پر وړاندې دې بېلا بېلې پلمې نه جوړوي، دوی که رښتيا د افغانستان سياسي او اقتصادي ثبات ته ژمن وي، نو پر اسلامي امارت دې لګېدلي بنديزونه لرې کړي او بې له قيد او شرطه دې اسلامي امارت په رسميت وپېژني، ځکه د ټول ولس برخليک پر خپل حکومت پورې ترلی دی، د افغانستان د اسلامي امارت تر بيا واکمنېدو وروسته کابو دوه کاله تېرېږي، خو لا هم هېڅ کوم هېواد په رسميت نه دی پېژندلی او لا تر اوسه په ملګرو ملتونو کې د افغانستان څوکۍ هم نه ده ورکړل شوې.

اسلامي امارت د اسلامي شريعت او ملي ګټو په چوکاټ کې د نړيوالو قوانينو، بشري حقونو، ښووني او روزنې او د مطبوعاتو آزادۍ ته پوره درناوی لري، الحمدلله په افغانستان کې اوس ټولشموله حکومت رامنځته شوی، هر راز قومي، سمتي او ژبني تعصب د پای ټکی اېښودل شوی او د ټولو ولايتونو وګړي تر اسلامي چتر لاندې په دولتي ادارو کې په عادي توګه خپلې دندې پر مخ وړي، دغه راز په اوسني حکومت کې د نشه يي توکو کرکيله صفر شوې او پر ضد يې جدي مبارزه کېږي، همدارنګه په ټول هېواد کې سرتاسري امنيت تامين شوی او اسلامي امارت يوازې په افغانستان کې نه؛ بلکې په سيمه کې هم امنيت او ثبات له خپل اقتصاد محوره بهرنۍ سياست سره مرستندوی بولي او په هېڅ صورت چاته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو په ضد وکارول شي.

که نړيواله ټولنه په رښتيني توګه د افغانستان اقتصادي وضعيت ته اندېښنه لري، نو مهرباني دې وکړي، پر امريکا دې فشار واچوي، چې د افغانانو کنګل شوې شتمنۍ آزاده کړي،ځکه همدا شتمني ده،چې د افغانستان اقتصادي ستونزې حلولی شي.

# خوارج له صدر اسلام څخه، بيا د نن تر دواعشو

**لومړۍ برخه / عبدالرحمن محمود**

خوارج يوه منحرفه ډله ده چې د اسلام په لومړۍ پېړۍ، په عصر نبوت کې يې آثار په ښکاره کېدو سوه، د بنو تميم د قبيلې څخه يو څوک چې په ((ذوالخويصرة)) يا حرقوص بن زهير السعدي باندې مشهور و، د سيدالامة ، أفضل البشر على الاطلاق، محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په تقسيم د مال د غنيمت يې اعتراض وکړ او هغه يې مخاطب کړ چې ((عدل وکه)) رسول الله ورته وويل هلاك شې ، که زه عدل ونه کړم، آخر به څوک عدل کوي؟

حديث شريف به په راتلونکو برخو کې ان شاءالله تفصيلي راشي

دا ډله د ((خوارج)) له نوم نه بغير په نورو نومونو هم ياده شوې ده ((حرورية)) محکمة(( مارقة)) نواصب))

د خوارج نوم دوی خپله هم و ځان ته کاروي، خو په دې تأويل چې ((خوارج)) جمع د ((خارجة)) ده، يعني هغه ډله چې د الله جل جلاله په لاره کې وتلې ده.

د خوارجو د ((اباضيي)) فرقې عالم، نورالدين سالمي ليکي(سموا خوارج، وهو جمع خارجة، وهي الطائفة اللتي تخرج في سبيل الله)

د خوارجو يو شاعر وايي(کفى حزنا ان الخوارج اصبحوا، و قد شتت نياتهم فتصد عوا)

د دوی دا تأويل ځکه فاسد دی چې د ظهور له پيل څخه د مسلمانانو په مقابل کې درېدلي، دوی له کفارو سره غزاء ته نه دي وتلي چې د تسميې وجه يې د دوی تا ويل پر اساس وشي.

اصل د دې تسميې وجه او سبب يې امام اشعري رحمه الله فرمايلي (والسبب الذي سُمّوا له خوارج؛ خروجهم على علي بن أبي طالب)

خوارج يې ځکه بولي چې د څلورم خليفة د اسلام، بدري صحابي، حضرت علي رضي الله عنه پر خلاف را پورته شول، او د مسلمانانو له جماعت څخه ووتل.

بل نوم يې ((حرورية )) دی، حرورية يې ځکه بولي چې نسبت يې ((حروراء)) ته دی، حروراء د کوفې ښار ته نږدې هغه ځای دی چې د دوی اسلافو له حضرت علي کرم الله وجهه څخه بغاوت اعلان کړ.

د دې نوم يادونه د بي بي عائشة رض څخه ثابته ده، يوه ښځه ورته راغله چې له حيض وروسته د پاتې شويو لمونځو قضاء را ګرځوي؟ دې ورته وويل چې أيا ته ((حرورية)) يې؟ موږ به د رسول الله په ژوند کې حائضې کېدلو، خو د لمونځونو قضاء مو نه را ګرځوله، له دې يي ځکه دا استفهام او پوښتنه وکړه چې ته حرورية يې؟ ځکه دوی همدغسې په تعنت، سختۍ او غلو في الدين او انحراف مشهور وو، بيا هغې ښځې ورته وويل چې نه، حرورية نه يم، د زده کړې په خاطر مې پوښتنه کوله.

عبدالله بن عمر رضي الله عنه يو ځل د ((حرورية)) وو يادونه وکړه، بيا يې و فرمايل چې رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي(دوی به له اسلام څخه داسې وځي لکه غيشی چې له ښکاره وځي)

بل نوم يې ((محکمة)) دی، محکمة يې ځکه بولي...

**نور بيا**

# سوریه کې سپین خولې ډله د کومو موخو لپاره رامنځ ته شوې؟

**عرفان الله شرفزوی**

سوریه؛ هغه پرمختللی هېواد؛ چې سلګونه زره ماشومان، ښځې، ولسي وګړي، اسلامپال مبارزین، جګړه مار او حکومتي پوځیان په کې په تېره نېږدې یوه نیمه لسیزه کې په وینو کې ولمبېدل. دې هېواد کې لا هم د وینو، غربت، بې کورۍ او بېوزلۍ له امله لسګونه زره کورنۍ د خپلو ارمانونو په هدیرو کې اوسي.

سوریه کې د جګړو له پیل سره غبرګ د ولسي وګړو د ژوند د ساتنې او خوندیتوب لپاره نړیوالو د خپلو سیاسي تګلارو له مخې غړ او شور پیل کړ، خو اغېزمن رول هلته داسې یوې نادولتي او غیر سیاسي ډلې ترسره کړ، چې په نړۍ کې یې محبوبیت ومونډ.

**سپین خولي یا ولسي ساتونکي:**

دا ((د یو انسان ژوند ژغورل لکه د ټول انسانیت ژغورنه)) تر شعار لاندې د سپینو خولیو په سر کوونکو هغې مجهزې رضاکاره ډلې نوم دی، چې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې په سوریه کې د ولسي وګړو د ژوند ژغورنې او ساتنې په موخه را منځ ته شوه او په ۲۰۱۳ کال کې مطرح ډله ثابته شوه. دا ډله ځان ته د ((ولسي ساتونکو)) نوم اخلي.

دې ډلې په تېرو لسو کلونو کې له ۱۲۴۵۰۰ ډېر ولسي وګړي د روسیې او سوریې د چورلکو له بمباریو وروسته له خاورو رایستلي او ژغورلي دي.

دا ډله چې مشر یې رائد الصالح دی؛ د سوریې په ۸ ولایتونو کې شاوخوا ۱۰۰ مرکزونه لري. تر اوسه د دې ډلې د رضاکارانو شمېر شاوخوا ۳۹۰۰ ښودل کېږي، چې د هر کسب وګړي په کې شتون لري او د ښځو شمېر په کې کم نه دی.

**پوښتنه داده، چې دا ډله چا او ولې رامنځ ته کړه؟**

د دې پوښتنې ځواب لا تر اوسه ګڼې ملاحظې لري او نه شي ویل کېدای، چې دا ډله لکه د دوی له خپلې ادعا سره سم یوازې د خواخوږو وګړو له لوري منسجمه شوې او که تر شا یې د کوم هېواد پټ لاس دی؟.

کله چې موږ د دې ډلې ارزونه کوو، نو لا یې په اړه له ګڼو پوښتنو سره مخ کېږو، ځکه د دې ډلې ملاتړ او مرسته تر ډېره په لوېدیځه نړۍ کې د امریکا، برېتانیا، جرمني، فرانسې او کاناډا په مشرۍ یو شمېر لوېدیځ هېوادونه کوي او د ننه په ترکیه کې د ترکیې تر څنګ لوېدیځ روزونکي هم دوی ته په بیړنیو حالاتوکې د ژغورنې د عملیاتو روزنه او زده کړه ورکوي، ځینو لوېدیځو هېوادونو د دوی هغو کورنیو ته چې ژوند یې له ګواښ سره مخ شوی؛ پناه ورکړې. لوېدیځ هېوادونه یې د یوې ایډیالې ډلې په توګه تبلیغ کوي او د دوی د هر اړخیز ملاتړ غږ لوړ ساتي، خو د سوریې حکومت او روسیه یې په اړه وایي، چې دا ډله په سوریه کې په جبهة النصره یا د شام د ازادۍ اسلامپالې ډلې پورې تړاو لري او د دې ډلې جنګیالي په کې په یو بل رنګ منسجم شوي؛ کله بیا دا ډله د لوېدیځو هېوادونو د څارګرو ادارو له لوري جوړه شوې ډله بولي. د سوریې حکومت د خپلې ادعا د ثبوت لپاره ځینې ویډیویي فلمونه هم خپاره کړي، خو د سپین خولو یا الخوذ البیضاء ډله دا تور ردوي او وایي، چې دوی بشپړ خپلواک دي او په هېڅ سیاسي ډله پورې نه دي تړلي. د دوی په وینا دوی یوازې بشري خدمات ترسره کوي او د جګړې په سیمو کې د چورلکو د بمباریو له امله له راپرېوتو ودانیو ټپیان او مړي راوباسي.

ممکن د سوریې د حکومت او روسیې له لوري دغه ډله ځکه اسلامپالو ته منسوبېږي، چې د دوی په خولیو کې نصب شویو ویډیو کمرو په خپلو مستنداتو کې نړۍ ته په ثبوت ورسوله، چې د سوریې د حکومت او روسي ځواکونو په بمباریو کې کیمیاوي وسلې کارېږي او جنګي جنایت تثبیتوي.

**خو دا ډله رښتیا هم ناپیيلې ده؟**

تر ډېره دا ډله ناپیيلې برېښي، خو د لوېدیځ ملاتړ او د اسلامپالو په سیمو کې له کوم مزاحمت پرته د دوی فعالیت د دوی پر بڼه د شک متضاد داغونه ږدي. د دوی د مشرانو څرګندونې داسې دي، چې د سوریې حکومت او روسي ځواکونه د ولسي وګړو پر پراخه وژنه تورنوي او ادعا کوي، چې د سوریې حکومت کیمیاوي وسلې او بمونه کاروي، چې دغه څرګندونې یې د لوېدیځ او اسلامپالو مبارزینو د خوښې خبرې دي، خو حکومت د همدې څرګندونو له امله پرې په خپل واک لاندې سیمو کې بندیز لګولی او ډېر کله یې وژلي هم دي. د دوی په اړه د اسلامپالو دریځ منفي نه برېښي او یا خو یې له خپلې مجبورۍ په خپل واک لاندې سیمو کې د فعالیت اجازه ورکړې. ویل کېږي دې ډلې له بمباریو وروسته د ژغورنې پر مهال ۲۹۴ غړي له لاسه ورکړي او له ۵۰۰ ډېر یې ټپیان شوي.

دوی له بمباریو وروسته د انسانانو د ژغورنې، اور وژنې، برېښنا ساتنې او روغتیا ساتنې په برخو کې سمدستي لاس په کار کېږي. همدا لامل دی، چې په ۲۰۱۶ کال کې جرمني او فرانسې دې ډلې ته د بشري حقونو جایزه ورکړه، چې مشر یې رائد الصالح دغه جایزه هغه مهال د جرمني د بهرنیو چارو له وزیر فرانک والتر او د هغه فرانسوي سیال ژان مارک څخه ترلاسه کړه. په همدې کال یو سویډني بنسټ هم د نوبل بدیله جایزه ورکړه. یاده ډله د سوریې د حکومت له واک وتلې سیمې د ازادو شویو سیمو په توګه پېژني. دې ډلې په سیمه او نړۍ کې محبوبیت او شهرت ترلاسه کړی.

زما په باور لږه موده وروسته ممکن د سپین خولیو ډله یوازې یوه ژوند ژغورونکې ډله پاتې نه شي؛ بلکې کېدای شي د سوریې د اوسني حکومت په مخالفت کې د لوېدیځ په ملاتړ دیموکراسي پلوی خوځښت شي او سیاسي ډله وګرځي. د دې اندېښنې څرک له اوسه د سپین خولیو د سر د سړیو په څرګندونو کې محسوسېږي. زموږ انګېرنه هم داده، چې دا ډله د سوریې په اسلامپالو پورې نه ده تړلې؛ بلکې اسلامپالو له خپلو مجبوریتونو او د امکاناتو د کمښت له امله دوی ته د دوی په سیمو کې د فعالیت اجازه ورکړې.

دا ډله له لوېدیځې نړۍ حمایه کېدونکې ډله ده، چې د خپلو اهدافو لپاره یې حمایت کوي او څه وخت وروسته به د لوېدیځ له فکر او غوښتنو سره سم پر یو سیاسي خوځښت واوړي او یا به کم تر کمه په خپل همدې رنګ کې د لوېدیځ د اهدافو پلي کېدو ته لاره هواره کړي.

# د شکرې په مخنیوي کې مرستندوی خوراکي عادت

**ژباړه: ډاکټر زاهد نایل**

شکر یا په طبي اصطلاح ډیابیټیس ته خاموش یا پټ وژونکی مرض وایي. شکر د انسان بدن له دننه تخریبوي، او د یو لړ نورو وژونکو حالتونو او ناروغیو لکه: د زړه ناروغي، د پښتورګو له کاره لوېدو، د جنسي غړو او جنسي پیاوړتیا د اغېزمنولو او د لید متاثره کولو، خطر هم زیاتوي. په انګلستان کې د یوې څېړنې له مخې، که په عادي روټین کې یو اسانه عادت بل واخیستل شي، نو د Type۲ ډیابیټس (د لویانو د شکر ناروغي) خطر تر ډېره بریده کموي.

د انګلستان د کېمبرج پوهنتون لخوا ترسره شوې څېړنه ښیي، چې هره ورځ د زیاتو مېوو او سبزیو کارول «د لویانو شکر» نه په مخنیوي کې مرستندوی ثابتېدلای شي. د دې څېړنې پر مهال د شکر، تقریباً لس زره ناروغان او له شکره د خوندي ۱۳۰۰۰ کسانو په وینه کې د C وېټامین او کېروټین د کچې اندازه ګیري شوې. پورته یاد شوي کسان د دوی د وینې د حیاتي نښو یا Bio Marker د سطحې له مخې په پنځو ګروپونو وېشل شوي وو.

د سبزیو او مېوو کم، په منځني ډول د ورځې ۲۷۴ ګرامه، کاروونکي کسان او تر ټولو زیات، ۵۰۸ ګرامه (د سبزیو او مېوو) خوړونکي کسانو ګروپ و.

څېړونکو معلومه کړه، هغه خلک چې مېوې او سبزي یې ورځنی رژیم و، نو د شکر خطر په کې تر ۵۰ سلنې کم شو.

د دې پورتني ګروپ په مقابل کې، هغو خلکو کې هم د دې ضرري ناروغۍ خطر کم شوی و، چې خپل غذایي رژیم کې یې که څه هم له ۵۰۸ ګرامو کمه سبزي او مېوه کاروله. ددې څېړنې پایلې په برتانوي طبي ژورنال کې خپرې شوې. په دې څېړنه کې د ۸ اروپایي هېوادونو رضاکارانو برخه اخیستلې وه، چې عمرونه یې له ۲۰ ـــ ۷۹ کلونو پورې وو.

د څېړنې له پایلو نه د مخکینو اټکلونو تصدیق وشو، هغه دا چې په غذایي رژیم او خوړو کې معمولي بدلون، لکه د صحي خوړو کارول، د Type۲ یعنې دلویانو د شکر، خطر تر یو معلوم حده کمولای شي.

د څېړونکو په وینا، د سبزیو او مېوو کارونې د ګټو په باره کې له ښایسته ډېر وخته راهیسې خبرې کېږي، مګر مخکې دا کره نه وه، چې د سبزیو او مېوو استعمال د دوهم ډول شکر (د لویانو شکر) مخنیوي کې رول لري.

دوی وایي، زموږ څېړنې ښودلې که هره ورځ سبزي او مېوه، په معمولي توګه زیاته وکارول شي، د شکر په مخنیوي کې مرسته کولی شي.

طبي متخصصین وایي، چې له فایبرونو (نریو رشتو یا تارونو) څخه د غني سبزیجاتو او مېوو کارول، د دغې ناروغي خطر کموي، ځکه چې دا د وینې په دوران کې د خوړو (ګلوکوزو) د جذب رفتار ورو او کموي، دغه راز له هضمي سیسټم سره مرسته کوي او دا احساس ډېروي، چې خېټه مو ډکه ده یانې ماړه یوو.

متوازنه او صحي غذا (متوازن د ژوند طرز) له چاغښته هم مخنیوی کوي او چاغښت بېخي اساسي فکتور دی، چې شکر منځته راوړي.

# دیدگاه مردم افغانستان را محترم شمارید

**احمد نوید**

انتونیو گوترش سرمنشی سازمان ملل متحد در آستانه برگزاری نشست نمایندگان ویژه کشورها در دوحه در تویتی روی تعامل با امارت اسلامی و کمک های بشر دوستانه به میلیون ها نفر در افغانستان ونیازمندی آنان به این کمک ها پرداخته و موضوع کار زنان را نیز مسأله کلیدی در این نشست عنوان نموده است.

نشست نماینده گان ویژه کشور های جهان در دوحه، پیرامون بررسی مجدد تعامل با امارت اسلامی افغانستان و بازنگری عملیات اجرایی کمک های بشردوستانه و مسایل دیگر مربوط به افغانستان، برگزار گردید که تدویر این نشست، واکنش های متفاوتی را نیز به همراه داشته است، شماری از افغانان مقیم کشورهای اروپایی، خواستار عدم به رسمیت شناختن امارت اسلامی از سوی کشور های جهان شده اند که این هیاهوی مطبوعاتی افغانان در خارج از کشور، از سوی مردم رنج دیده و زجر کشیده افغانستان که سالیان درازی کوله بار از مشکلات، اقتصادی و نظامی را با خود حمل و تجاوز های شرق و غرب را نیز مهار و باغ آزادی و استقلال را با خون خود آبیاری کرده اند، تقبیح و آن عده از افغانان معترض را عمال بیگانه و فاقد احساس وطندوستی دانسته اند.

هرچند اگر به تظاهرات افغانان مقیم خارج، بی طرفانه نظر اندازیم به وضاحت معلوم می گردد که تعداد این افراد در هر کشور از شمار انگشتان هم کمتر بوده است، اما رسانه های غربی و وابسته به دشمنان مردم افغانستان، چنان به این مسایل می پرداخته و آنرا بازتاب می دهند که گویا تمام افغانان در تضاد با امارت اسلامی اند، در حالی که اگر به اصل قضیه بپردازیم نتیجه یی که به دست می آید، اینست که اگر امارت اسلامی از حمایت قاطبه ملت برخوردار نمی بود، با دست خالی، اما ایمان راسخ به خداوند (ج)، نمی توانست با بزرگترین قدرت های عصر (ناتو) که در رأس آن ایالات متحده امریکا قرار داشت، مبارزه و مقاومت کند که بدون شک در این پیروزی، یاری خداوند عزوجل و همت والای شهروندان افغانستان در سراسر کشور قابل مکث و تامل است، زیرا نظامی که بعد شکست امریکا و شرکایش بر افغانستان حاکم گردید، یکی از آروزهای دیرینه مردم بیگانه ستیز و با دیانت افغانستان بود و در این مبارزه، میلیون ها انسان، شهید، معلول، همچنان زیر ساخت های کشور نیز منهدم شده، اما با تأسف هنوز که هنوز است، دشمنان اسلام در صدد به چالش کشیدن مردم و نظام کنونی به عناوین مختلف هستند.

بنابر این مردم افغانستان از جامعه جهانی به ویژه سازمان ملل متحد می خواهند که به خواست و اراده مردم مقاوم و آزاده افغانستان، پیرامون به رسمیت شناختن امارت اسلامی و روابط حسنه دیپلوماتیک دولت با دولت، ارج گذارند و دریچه روابط دوستانه را مستحکم تر سازند و اگر به این خواست ها و آرزوها، باور ندارند، نظر خواهی و یا ریفرندوم عمومی را در داخل کشور راه اندازی کنند که بلاشک در آن صورت خواهند دانست که مردم شریف و دین دوست افغانستان، خواهان نظام اسلامی و تطیق شریعت غرأ محمدی و حفظ آزادی اند، زیرا این مسأله به تمام جهان هویدا گردید که مردم افغاستان نه کمونیزم و نه هم امپریالیزم را می پذیرند، صرف نظامی که مورد قبول مردم این کشور است، نظام اسلامی و تطبیق شریعت اسلامی می باشد، چون در تطبیق شریعت حکمت های نهفته است به گونه مثال اگر به تاریخ اسلام نظر اندازیم، به وضاحت معلوم می گردد که نظام های اسلامی از قدرت و جایگاهی ویژه یی در جهان برخوردار بودند و امپراتوری های اسلامی نیز از با صلابت ترین امپراتوری ها در جهان به حساب می آمدند.

روی این اساس کشورهای اشتراک کننده در نشست دوحه باید به خواست ها و آرزوهای مردم افغانستان بها بگذارند، نه تنها که امارت اسلامی را به رسمیت بشناسند، بلکه دارایی های مسدود شده این ملت رنجدیده را نیز آزاد و به دسترس امارت اسلامی افغانستان قرار دهند و همچنان روابط حسنه دیپلوماتیک را نیز گسترش دهند.

# لنډ او مهم خبرونه:

امنیتي:

۱–پروان کې دوه امریکایي کرنګ ونه کشف او ضبط شول.

۲–اتو ولایتونو کې د نشه یي توکو بوټي له منځه یوړل شول.

۳– په اوو ولایتونو کې ۲۲ تنه د جنایي پېښو په تړاو نیول شوي.

٤–کابل کې امنیتي ځواکونو تښتول شوی ماشوم وژغوره.

***

فعالیتونه:

۱–په کابل کې د چین سفارت د ویزو صادرول بیا پیلوي.

۲–د حج فریضې په اداکولو کې سړیو او مېرمنو ته مساوي حقوق ورکړل شوي.

۳–تېره ورځ ننګرهار کې د ثور اتمه د مجاهدینو د بري ۳۱ مه کلیزه ونمانځل شوه.

٤–د اصنافو د ثابتې مالیې نورم له ۱٫۵ څخه ۰٫۵ سلنې ته راکم شو.

***

فعالیتونه:

۱–م.م عالي کمشنرۍ مرستیاله:افغانستان کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوو.

۲–لغمان کې د سرې میاشتې له ښوونیز مرکز څخه ۸۰ تنه زده کوونکي فارغ شول.

۳–وسپنې پټلۍ اداري د عمومي رئیس په مشرۍ اداري غونډه جوړه شوه.

٤–راستنېدونکوو شخصیتونو ته د خوندیتوب کارتونه ورکول کېږي.

***

فعالیتونه:

۱–سږ کال د افغان حاجیانو لپاره ۳۰ زره د سهمیه حج او اوقافو وزارت ته ورکړل شوې.

۲–میدان وردګ محاکمو ۲ اوونیو کې ۹۳ دوسیې حل او ۷۱ وثیقې اجرأ کړې دي.

٤–اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست وزیر د بامیانو د اطلاعاتو او کلتور له رئیس سره وکتل.

***

ښاروالی:

۱–احمد شاه بابا مېنې د پنځم او شپږم بلاک ترمنځ د سړک جوړولو چارې روانې دي.

۲–د بي بي ساره پارک کې زرغونې سیمې پراخه شوې.

۳–بهرنیو چارو وزارت سړک د زیانمنو برخو د داغ نیونې چارې بشپړې شوې.

٤–بازارونو کې د نرخ نامې د تطبیق له څرنګوالي څارنه دوام لري.

***

ورزشي:

۱–لغمان کې د والیبال اختریزې سیالۍ د منګو لوبډلې په بریا پای ته ورسېدې.

۲–پکتیا کې د رنګین اختر والیبال سیالۍ د ګوهر سپورټ لوبډلې په اتلولۍ پای ته ورسېدې.

۳–د المپیک ملي کمېټې او سپورټ عمومي ریاست رئیس د بزکشي فدراسیون له مسولینو سره لیدنه وکړه.

## شعر و ادب

## حکایت طاووس

**حضرت عطار (رح)**

بعد از آن طاووس آمد زرنگار
نقش پرش صد چه بل که صد هزار
چون عروسی جلوه کردن ساز کرد
هر پر او جلوه‌ای آغاز کرد
گفت تا نقاش غیبم نقش بست
چینیان را شد قلم انگشت دست
گرچه من جبریل مرغانم ولیک
رفت بر من از قضا کاری نه نیک
یار شد با من به یک جا مار زشت
تا بیفتادم به خواری از بهشت
چون بدل کردند خلوت جای من
تخت بند پای من شد پای من
عزم آن دارم کزین تاریک جای
رهبری باشد به خلدم رهنمای
من نه آن مردم که در سلطان رسم
بس بود اینم که در دروان رسم
کی بود سیمرغ را پروای من
بس بود فردوس عالی جای من
من ندارم در جهان کاری دگر
تا بهشتم ره دهد باری دگر
هدهدش گفت ای ز خود گم کرده راه
هر که خواهد خانه‌ای از پادشاه
گوی نزدیکی او این زان به است
خانه‌ای از حضرت سلطان به است
خانه‌ای نفس است خلد پر هوس
خانه‌ای دل مقصد صدق است و بس
حضرت حق هست دریای عظیم
قطره‌ای خرد است جنات النعیم
قطره باشد هرکه را دریا بود
هرچه جز دریا بود سودا بود
چون به دریا می‌توانی راه یافت
سوی یک شبنم چرا باید شتافت
هرک داند گفت با خورشید راز
کی تواند ماند از یک ذره باز
هرکی کل شد جزو را با او چه کار
وانک جان شد عضو را با او چه کار
گر تو هستی مرد کلی، کل ببین
کل طلب، کل باش، کل شو، کل گزین

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

تو کریم مطلق و من گدا چه کنی جز این‌که بخوانی‌ام
در دیگری بنما که من به کجا روم چو برانی‌ام
کسی از محیط عدم‌کران چه ز قطره واطلبد نشان
ز خودم نبرده‌ای آن‌چنان که دگر به خود برسانی‌ام
به کجاست آن قدرم بقا که تأملی کندم وفا
عرق خجالت فرصتم نم انفعال زمانی‌ام
به فسردنم همه تن الم به تردّد آبله در قدم
چو غبار داغ نشستنم چو سرشک ننگ روانی‌ام
سحر طلسم هوا قفس همه‌جاست منفعل هوس
چه قدر عرق کندم نفس که به شبنمی بستانی‌ام
ز کدورت من و ما پُرم غم بار دل به که بشمرم
ستم است سنگ ترازویی که نفس کشد ز گرانی‌ام
ز حضور پیری‌ام این‌قدر اثر امتحان قبول و رد
که رساند بر در نیستی خم پشت پای جوانی‌ام
نه به نقش بسته مشوشم نه به حرف ساخته سرخوشم
نفسی به یاد تو می‌کشم چه عبارت و چه معانی‌ام
همه عمر هرزه دویده‌ام خجلم کنون که خمیده‌ام
من اگر به حلقه رسیده‌ام تو برون در ننشانی‌ام
ز طنین پشه‌ای بی‌نفس خجل است بیدل هیچکس
به کجایم و کی‌ام و چی‌ام که تو جز به ناله ندانی‌ام

# د شـــوال میاشـتې سـتـره پېښـه
# (د احــزاب غــزا)

**خالد مشعل**

بیا د هجرت په پنځم کال د شوال په میاشت کې د خندق غزا ترسره شوه.
